# 12 اسانه ګامونه ترڅو...

# REDUCE REUSE RECYCLE

په ډانیګال کاونټۍ (COUNTY DONEGAL)
کې د کور د ضایعاتو یا کثفافاتو د مدیریت
په هکله د ګټورو معلوماتو جیبي لاربښود.

Comhairle Contae Dhún na nGall
Donegal County Council

Pashto

## سریزه

ډانیګال یو ځانګړی ولایت دی چې هر هغه څه پکې شامل دي چې د وحشي اتلانتیک لاره لا پسې بې ساري کوي.


شنه ریګي ساحلونه، سخت غرونه، غونډۍ، جهیلونه، سیندونه، ځنګلونه او شنه سمندرونه.

هغه منظره چې له هر شي سره سیالي کولی شي، د نباتاتو او ژوو کثرت، یو ولایت چې ژور فرهنګي لري.

### څه شی خوښ نه کړئ؟

موږ هر یو په دې ډاډمنولو کې یوه ونډه لرو چې ښکلی هېواد خوندي او محفوظ دی.

**په ډانیګال کې د کثافاتو مدیریت لپاره دا ګټور جیبي لارښود د هغو شیانو په اړه ګټور معلومات برابروي چې موږ ټول یې په کور کې د بدلون راوستلو لپاره ترسره کولی شو.**




**ذمه‌واري:** دا یوازې یو لارښوونیز سند دی او د کوم اصلي یا فرعي قانون یا مقرراتو قانوني r تفسیر نه دی. د 2022 جولای.

**تر مصرف وروسته 100% ریسایکل شوي کاغذ باندې پرنټ شوی دی.**

خپل ضایعات یا کثفافات مدیریتول

# چټک چیکلیست

**یو ساده چیکلیست چې د دې ګټمن کولو کې مرسته کوي چې څنګه په کور کې خپل ضایعات یا کثفافات مدیریت کړئ.**

**ایا تاسو؟**

- تل د ضایعاتو یا کثفافاتو مجاز را ټولوونکی یعني کثافتدانۍ کاروئ؟
- د ضایعاتو یا کثفافاتو راټولو خدمت لرئ؟
- د 2 کثافتدانیو خدمت لرئ (عمومي کثافات او د سړک د سر ریسایکل کول)؟
- د 3 کثافتدانیو خدمت لرئ (عمومي کثافات، د سړک د سر ریسایکل کول او د خوړو کثافات)؟
- د شیشې بوتلونو/جارونو، خوراکي توکو او څښاک قوطي او ایروزولونو لپاره د ځايي راوړلو ډېرانونو کاروئ؟
- د ریسایکل کولو ځايي مرکزونه کاروئ؟
- په کور کې له ضایعاتو څخه سره جوړوئ؟
- کله چې نوي پیرود کوئ نو بریښنايي او الکترونیکي توکي په وړیا توګه هټۍ ته وړیا وړئ؟
- د ریسایکل کولو په ځايي مرکز کې وړیا بریښنايي او الکریکي توکي ریسایکل کوئ؟
- کارول شوي بیټرۍ د ریسایکل کولو لپاره د بیټرۍ پرچون پلورونکو ته بیرته وړئ، البته د پیرودلو اړتیا نشته (پر آبي صندوق نظر وساتئ)؟

**ایا تاسو؟**

- د ریسایکل کولو په ځايي مرکز کې له شته خدمتونو سره اشنا یاست.

## 1 ګام

# د ضایعاتو مخنیوی

**د ضایعاتو مدیریت کولو تر ټولو غوره لار په لومړي ځای کې یې نه تولیدول ده. د ضایعاتو راکمول د مصرف او کم پیرولو له لارې په لومړي ځای کې د کمو سرچینو کارولو په معنا دي.**

**یو لړ کارونه په لاندې ډول دي چې موږ ټول یې د ضایعاتو د مخنیوي لپاره ترسره کولی شو.**

- له یو ځلي کارولو ډډه - د ریسایکل کولو وړ بوتل کارول، د غرمې بکسونه، فلاسکونه، د بیا کارولو وړ پیالې او د بیا کارولو وړ کڅوړې کارول.
- ځایي کاروبارونه کتل چې د بوتل په ځېر شیانو بیا ځلي ډکولو خدمتونه وړاندیز کوي.
- مخکیني انتخاب - د خوښې وړ جامې.
- د ترمیم فکر کول - ایا لومړی ترمیم کېدی شي که نه؟
- له بېکاره کاغذونو ډډه - سبسکرایب لغوه کړئ /د لیک پر صندوق د "بېکاره کاغذ مه اچوئ" ستیکر ولګوئ.
- کمه بسته بندي غوره کړئ - خلاصې میوې او سبزیجات غوره کړئ
- د اپسایکل چلولو هڅه وکړئ - یو زوړ شی ته نوی ژوند ورکړئ.
- Mywaste د Greener Gardening، Green Cleaning او Green Home په اړه ځینې غوره لارښووني لري چې د دوی په ویبپانه کې د لارښود په توګه شته دي.

**د ضایعاتو مخنیوي د لا زیاتو نظریو لپاره ورته مراجعه وکړئ:**

« www.mywaste.ie
« www.repairmystuff.ie
« www.donegalcoco.ie
« www.stopfoodwaste.ie
« www.consciouscup.ie
« www.refill.ie





# د خوړو ضایعات مو ړانده کوي!

## د خوړو له ضایعاتو ډډه وکړئ!

**یوې وروستۍ سروې دا پایله لاسته راوړلې ده چې د خلکو د خوړو د ضایع کولو اصلي دلیل دا دی چې ډېر کارولو نیټه یې تېره شوې ده.**

وچه ډوډۍ، سبزیجات، میوې او سلاد د خوړو تر ټولو عام ډولونه دي چې له منځه وړل کیږي.

**د خوړو ضایعاتو راکمولو لپاره کوچني ساده ګامونه پورته کړئ:**

1. د خوړو پلان جوړ کړئ.
2. پیرود ته تر تلو مخکې خپله ذخیره وګورئ.
3. د پیرود لېست وګورئ.
4. کنګل یې کړئ! خواړه تر تاریخ تېرېدو مخکې کنګل کړئ.

د نرخونو پر لوړولو سربېره، ډیرې خلک د پیرود پر مهال د هڅوونې، څورونکي څواک او کمزوري پلان جوړونې له امله اضافي خوراکي محصولات اخلي.

**دخوړو ضایعات بند کړئ ننګوونه ترسره کړئ ترڅو ووینئ چې څنګه کولی شئ خواړه او پیسې خوندي کړئ!**

# خوړو ضایعات بند کړئ ننګوونه

## خپل خواړه او پیسې خوندي کول



## خپل ضایعات وپیژنئ

**د خوړو ضایعاتو بندولو لپاره لومړی ځان له دې خبر کړئ چې څه شی او څومره غورځوئ**

**1. خپل د خوړو ضایعاتو جلا کړئ**

خپل د خوړو ضایعات په یوه جلا قوطي کې واچوئ ترڅو  وګورئ چې تاسو واقعیا څومره ضایعات لرئ

**2. د خپلو ضایعاتو ریکارډ ونیسئ**

په یاد ساتلو لپاره د غورځولو وړ خوړلو نوټ ولي ونه نیسئ

**3. لاملونه وپیژنئ**

که تاسو پوهیږئ چې ولې خواړه غورځوئ نو کولی شئ د بندولو لپاره یې کار وکړئ

## پلان جوړول

**ښه پلان جوړونه ژوند اسانه کوي، پیسې مو سپموي او د خوړو ضایعات کموي**

**1. پخلنځي الماری وګورئ**

د کور تر وره بهر ګام اخیستو مخکې وګورئ چې څه شی شته دي!

**2. پلان جوړ کړئ**

له خپلو اړتیاو سره سم د خوړو پلانونو او ترکیبونو په کارولو سره به پیسې خوندي کړئ

**3. لېست ونیسئ**

د پیرود یو مناسب پلان شوی لیست له مو وخت وسپموي او د خوړو ضایعات به بند کړي!

## پېرود

**دا یو ځای دی چې تر پیرلو مخکې پکې خواړه ضایع کوئ.........پېرودونکیه خبر اوسه**

**1. مخکې - چمتو اوسئ**

تر تګ مخکې پر دې ځای پوه کړئ چې څه شي ته اړتیا لرئ او په خالي معده پېرود مه کوئ!

**2. په بهیر کې - بیدار اوسئ!**

تاسو له ځای سره لېست لرئ، ويې وکاروئ او خبر اوسئ، د چانو وهلو پېرود معمولاً ضایع کېږي.

**3. وروسته - څومره مو سپمولي؟**

لنډ خوراکي ترکیبونه؟ سپکې کڅافتدانی؟ وګورئ چې څه شی مو سپمولي دي.

## ذخیره

**له هغه څه ډېره ګټه پورته کړئ چې تاسو پېرلي دي او خپل خواړه کور ته ورکړئ**

**1. سم يې ذخیره کړئ**

د سمو خوړو لپاره سم ځای پیژندل نیمه ستونزه حلوي

**2. سم يې وکاروئ**

اوس مو پېرلي، نو سم يې وکاروئ. خپلې نېټې وپیژنئ، ځان مه ګیروئ.

**3. لېست جوړ کړئ**

د خپلو خوړو ساتلو لپاره ډېرې غوره لارې چارې شته دي، خو پوهېږئ چې څنګه؟

## پخلی

**اوس د خوړو د ضایعاتو بندولو تر ټولو خوندوره برخه.**

Bon Appetit

### 1. مناسبې برخې

په قاب کې تر حد ډېر خواړه د کثافتدانۍ تر حد ډېر ډکېدو سبب کېږي - خپلې برخې وپېژنئ

### 2. خواړه وړاندې کول او بیا کارول

د ډوډۍ او کبانو جادویي هنر زده کړئ

### 3. ناڅاپي خوراکي ترکیبونه

د سپړ پخولو ډیری لارې شته stopfoodwaste.ie وګورئ.



2 ګام

# د سړک له غاړې د کثافاتو راټولول

د سړک له غاړې د کثافاتو راټولولو خدمت په ډانیګال کې د کثافاتو د خصوصي راټولوونکو لخوا د کورنیو لپاره چمتو کیږي. په ډانیګال کې د کثافاتو راټولوونکی په ډانیګال کې د کثافاتو راټولولو معتبره اجازه ولري.

**په ډانیګال کې د کثافاتو راټولړونکي د کثافاتو د راټولولو جلا سیستم برابروي، دوی عمومي کثافات، مخلوط وچ ریسایکل کول او د خوړو ضایعات راټولوي.**




## د کورنۍ د ریسایکل کولو کثافتدانۍ

- ✓ کاغذ
- ✓ کارتن
- ✓ مجله/بروشور
- ✓ نرم پلاستیک (کڅوړې/پلاستیک او نور)
- ✓ کلک پلاستیکونه (پلاستیکي بوتل/تیوبونه او نور)
- ✓ ټیټرا پیک (کارتنونه)
- ✓ د خوړو دبې (فولادو)
- ✓ د څښاکونو قوطي (المونیمي)
- ✓ ټول ریسایکل کېدونکي شیان باید پاک، وچ او ازاد وي.
- ✗ **شیشه منع ده**






## د ضايعاتو عمومي کثافاتداني

- ککړ/چټل بستهبندي یا قوطي
- د خوړو ککړې بستهبندی
- ایره (سېره)
- د غاښونو کريمو قوطي
- حفظ الصحوي کثافات
- پمپرونه
- سيراميک



د ضايعاتو راټولوونکو لټون په لاندې ویبسایټ کې وکړئ:
« www.nwcpo.ie

په لاندې ویبسایټ کې په دې هکله لا زيات پوه شئ چې ستاسو په کثافتدانی کې څه شی اچول کیږي:
« www.mywaste.ie

## د خوړو ضایعات

**د کورنیو کڅافاتو راټولونکي د خوراکي توکو د ضایع کولو ډبو په شمبر کې د پام‌وړ زیاتوالي راپور ورکوي چې په ټول ولایت کې د دوی پیروونکو ته چمتو شوي دي.**

**د ټولو ګډونوالو هڅې ستایل کیږي!**

د دې موادو راټولول په دې معنی دي چې دا د سرې او نوې کېدونکي انرژۍ د تولید لپاره کارول کېدی شي چې په ډېره ځایي کچه د ځان بسیاینې لپاره فرصتونه رامنځته کوي.



## د خوړو د ضایعاتو ریسایکل کولو کثافتداني(قهوه‌ايي)

- د خوړو نا پاخه شوي ضايعات
- د خوړو پاخه شوي ضايعات
- د قاب پاکول
- غوښه، د چرګانو محصولات، کب او هډونکي
- لبني محصولات
- د هګيو محصولات
- د قهوې ګرېندونه او د چايو کڅوړې
- تازه مېوې او سبزيجات




**تل په ياد ساتئ چې د خوړو د ضايعاتو په کثافتدانۍ کې تر اچولو مخکې يې بسته بندي لرې کړئ.**

**د خپل پخلنځي د کڅوړې پاک ساتلو لپاره د سرې کېډو وړ لاينر يا يو څه کاغذ وکاروئ. پلاستيکي کڅوړه مه کاروئ.**



د ضايعاتو راټولوونکو لټون په لاندې وېبسايټ کې وکړئ:
« www.nwcpo.ie

په لاندې وېبسايټ کې په دې هکله لا زيات پوه شئ چې ستاسو په کثافتدانۍ کې څه شی اچول کېږي:
« www.mywaste.ie

3 ګام

# ډېرانونه




## ترسره یې کړئ

- ډاډمنه کړئ چې ټول هغه شیشه‌یي بوتلونه یا قوطي چې تاسو یې په ډېرانونو کې ځای پر ځای کوئ، پاک دي. شیشه‌یي بوتلونه د ډېران رنګ ته له پام پرته په یوه هغه کې غورځول کېدی شي.
- المونیمي قوطي، اوسپنه‌ییز هغه او ایروزولونه په ګډه توګه په ډېران کې ځای پر ځای کړئ.
- خپلې کڅوړې او صندوقونه کور ته د بیا کارولو لپاره راوړئ.
- ډاډمنه کړئ چې د کور ټول توکرونه د بیا کارولو لپاره د توکرانو په ډېران کې تر اچولو مخکې پاک دي.

## مه یې ترسره کوئ

- په ډېران کې هر ډول سیرامیک، کاشي، هینداره یا پایرکس ځای پر ځای کړئ.

## هېڅکله

- د بوتلونو په ډېران کې کثافات پرېږدئ یا خالي صندوقونه یا کڅوړې پرېږدئ، دا غیرقانوني غورځول ګڼل کیږي. د کثافاتو د ځای پر ځای کولو جریمه اوسمهال €150 ده.

**د ځیل نږدې ډېران موندلو لپاره لاندې ویبسایټ ته مراجعه وکړئ:**

» www.donegalcoco.ie


4 ګام

Bryson Recycling

# د ریسایکل کولو مرکزونه

**په ډانیګال کې د ریسایکل کولو شپږ مرکزونه شته چې په کارنډوناګ (Carndonagh)، لیټرکیني (Letterkenny)، میلفورډ (Milford)، ډاینګلو (Dungloe)، سټرانورلر (Stranorlar) او لاګي (Laghey) کې موقعیت لري.**

**دا مرکزونه پراخه ازاده سیمه او فیس لرونکې ریسایکل کولو ساحه لري. ضایع شوي توکي لکه شیشه، قوطي، توکر، بیټرۍ او بریښنایی توکي ټول وړیا منل کیږي.**





# د ریسایکل کولو
# د مرکزونو فیسونه



## وړیا ریسایکل کول

- شیشه
- قوطي
- ایروزولونه
- توکر
- فلورسانت تیوبونه
- بېټرۍ
- د موټر بیټرۍ
- کوچني وسایل
- لوی وسایل
- تلویزون او مانیټورونه
- ګرځنده ټلیفونونه
- فلزوه
- د خیاطي ماشینونه

## د ریسایکل کولو د مرکزونو فیسونه

**د لاندې توکو لپاره له €1 تر €8 پورې لګښتونه شته (خپل توکي مخکې تر دې چې سایټونو ته لاړ شئ، ترتیب کړئ، د ریسایکل کولو لپاره ټولې بسته‌بندۍ باید پاکې، وچې او خلاصې وي).**

- کاغذ
- کارتن
- کارتنونه
- کلک پلاستیکي لوښي (له نرمو پلاستیکونو څخه یې جلا وساتئ)
- نرم پلاستیکونه
- د پخلي غوړي
- د ماشین غوړي

## نور فیسونه:

- ټایرونه (€4 د هر موټر د ټایر پر سر)
- د ګاز ډبې (€2 د هر سلنډر پر سر)
- نقاشي (€1 د 5 نریو قوطیو پر سر)
- پولیسټیرین (یوازې پاک سپین، €د هرو 2 کڅوړو پر سر)
- د باغ ضایعات (€د هرو 2 کڅوړو پر سر)
- د خوړو ضایعات (€1 تر 2kgs پورې، €2 3-5kg، €4 6-10kgs، یوازې د سرې کېدو وړ کڅوړه وکاروئ)
- د غورځولو د کور ضایعات(€0.55 / kg)
- غټ توکي هم مثل کیږي لکه توشکې، صوفې، لرګي او نور. د دې توکو پر سر یو لړ لګښتونه نشته



**د ریسایکل کولو مرکز د پرانیستو ساعتونو او نورو جزیاتو په اړه د معلوماتو لپاره لاندې ویبسایټ ته مراجعه وکړئ:**

» www.donegalcoco.ie
» www.brysonrecycling.org

5 ګام

# وړیا ریسایکل کړئ
## بریښنایي او الکترونیکي تجهیزات




د بدلون خوب

خپل زاړه او مات الکترونیکي توکو ته د بیا خلي ژوند
چانس ورکړئ... **وړیا ریسایکل کړئ!**

weee ireland
APPROVED **RECYCLING** SCHEME

## WEEE هر هغه څه دي چې پلګ یا بیټری ولري او د خپل ګټور ژوند په پای کې وي.

- کله چې تاسو یوه نوې برېښنایی، الکترونیکي یا په بیټری سره چلېدونکي وسیله یا تجهیزات اخلئ، پرچون پلورونکی یا عرضه کوونکی اړ دي چې ستاسو زړه وسیله یا تجهیزات په وړیا توګه د بلې وسیلې په بدل کې یا جنس پر جنس بیرته واخلي چې هغه وسیله یا تجهیزات چې تاسو اخیستي دي.
- تاسو کولی شئ بیټری، فلوروسنټ ټیوبونه او هر هغه څه چې برېښنایی یا الکترونیکي (له پلګ یا بیټری سره) د ریسایلک کولو په خپل ځايي مرکز کې بیا وکاروئ - په ډانیګال کې د **ریسایکل کولو مرکزنو** په اړه په 15 پاڼه کې معلومات وګورئ.
- هره بیټری چې تاسو یې په آبي WEEE آیرلینډ بیټری صندوقونو کې ریسایکل کوئ، د Ireland's Children's Hospice ،LauraLynn لپاره حیاتي فنډونو په راټولولو کې مرسته کوي.
- کوچني شیان مهم دي، کوچني توکي د پلګ سره یا بیټری هم په وړیا توګه بیا کارول کیدی شي!



**د لا زیاتو معلوماتو لپاره ورته مراجعه وکړئ:**

» www.weeeireland.ie

» www.brysonrecycling.org

6 ګام

# په کور کې له ضایعاتو څخه سره جوړول

**سره  جوړول یا کمپوسټ کول د تجزیې یوه طبیعي پروسه ده چې د باغ مواد او د سبزیجاتو خواړه په تیاره، تیوته تیوته او خاورې بوی لرونکي موادو بدلوي چې کمپوسټ یا سره نومیږي. سره په مغذي موادو کې بډای او له ژوند څخه ډک دی او کله چې ستاسو په باغ کې د بوټو لپاره کارول کیږي، د خاورې ایکوسیستم ته تغذیه ورکوي او ورو ورو هغه مغذي مواد خوشې کوي چې نباتات یې جذبولی شي.**

په کور کې د سرې جوړولو کثافتدانۍ د هر هغه چا لپاره مناسبې دي چې غواړي کمپوسټ یا سره جوړول پیل کړي. د تازه میوو، سبزیجاتو، د هګیو پوست، د چای کڅوړې او د وابښو قلمې په څېر توکي. دا له کثافتدانیو څخه د ضایعاتو راکمولو تر ټولو غوره لار ده. تاسو ممکن د کمپوسټ یا سرې جوړولو نورو تخنیکونو لکه د کمپوسټ انبارونو، چینجیو او نورو سیستمونو سره هم علاقه ولرئ.





**په کور کې د سرې جولولو سیستمونو او تخنیکونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ورته مراجعه وکړئ:**

- « www.mywaste.ie
- « www.donegalcoco.ie

7 ګام

# شنه ضایعات

**د باغ کثافات د باغ بایوډیګریډ وړ کثافات دي لکه شاخه‌بوري، د چمن توټې، سپکې ځانګې او پاڼې چې ستاسو په باغ کې یوه ارزښتناکه سرچینه ده. په باغ دننه د باغ د کثافاتو بیا کارول طبیعي او دوامداره انتخاب دی، چې زموږ د نړیوالې تودوخې اغیز راکموي او د اقلیم بدلون سره د تطابق لپاره د خاورې ورتیا پیاوړې کوي.**

- د باغ ضایعات ستاسو د سرې په کثافتداني کې ریسایکل کېدی شي یا ستاسو د خامو میوو او سبزیجاتو او همدارنګه د کاغذ او کارتن سره ډېران شي.
- که تاسو د باغ ډیر کثافات لرئ چې پر سره یې نه شئ بدلولئ، کولی شئ هغه د ریسایکل کولو ځایي مرکز ته د هرې کڅوړې په بدل کې €2 سره یوسئ.
- ځینې کثافات راټولونکي د باغ د کثافاتو خدمت وړاندې کوي، د نورو جزیاتو لپاره خپل کثافات راټولونکي سره اړیکه ونیسئ.

## د واښو ریسایکل کول

د واښو ریسایکل کول د واښو طبیعي ریسایکل دی چې د واښو پرې کول د واښو په چمن کې پریږدي کله چې د واښو پرې کول ترسره کیږي. کله چې په څمکه کې کېښدل شي، نو توټې، چې 80-85% اوبه لري، په چټکۍ سره تجزیه کیږي او ارزښتناک مغذي مواد لکه نایتروجن بیرته خاورې ته راستنیږي.

**په کور کې د سرې جوړولو سیستمونو او تخنیکونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ورته مراجعه وکړئ:**

» www.mywaste.ie

» www.donegalcoco.ie



# ELV's - د ژوند پای موټرونه


## د زاړه موټر له منځه وړلو په اړه فکر لرلو پر وخت باید دوه شیان چې په پام کې ونیول شي

- آیا ما له موټر چلوونکي سره د کار کولو لپاره یو مجاز کس ګومارلی دی چې داډمنه کړي چې زما موټر د قانون، مقرراتو او چاپیریال ساتنې سره سمه معامله لري او ضایع کیږي که نه؟

- ایا چلوونکی به ماته زما د سوابقو لپاره د تخریب تصدیق (COD) راکړي ترڅو وښیم چې ما د 1996 د کثافاتو مدیریت قانون له مخې د موټر د راجستر شوي مالک په توګه خپل مکلفیتونه پوره کړي دي؟ د هر ډول موټرو مالیې بیرته ترلاسه کولو لپاره چې تاسو یې پر شرایطو برابر یاست، CODs هم اړین دي.



# له زانګو تر ګوره
# د موټرو د ژوند سایکل ارزونه



9 ګام

# په انګړ کې یې سوځول

**په انګړ کې یې سوځول د کثافاتو بې کنټروله سوځولو ته اشاره کوي.**

**دغه راز په لاندې لارو سره د کثافاتو سوځولو ته هم اشاره کوي:**

- پرانیستي اورونه
- رېنجونه
- د سون توکو نور جامد تجهیزات یا په پرانیستي فضا کې.

**په کور یا باغ کې د کثافاتو سوځول په هر ډول غیرقانوني دي.**





ستاسو په کور یا باغ کې د کثافاتو سوځول ستاسو روغتیا، او همدارنګه ستاسو د ماشومانو او ګاونډیانو روغتیا ته زیان رسولی شي. دا ډول غیرقانوني کړنې د زهرجن ډای اکسینونو د خپرېدو لامل کیږي کوم چې د خلکو روغتیا او چاپیریال لپاره ریښتینی خطر دی.

**که ستاسو ګاونډی یا بل څوک چې تاسو یې وینئ، په غیرقانوني ډول کثافات سوځوي، نو ستاسو د روغتیا او چاپیریال په ګټه یې په مهربانۍ سره راپور ورکړئ. د راپور ورکولو څرنګوالي په هکله معلومات په 27مه پاڼه کې شته دي.**



**په انګړ کې د سوځولو په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویبسایټ ته مراجعه وکړئ:**

» www.donegalcoco.ie

» www.epa.ie

# د کثافاتو غیر مجاز راټولوونکي

- ډاډمنه کړئ چې ستاسو د کثافاتو راټولوونکی د کثافاتو یو ریښتینی کاروبار دی او د کثافاتو راټولولو جواز لري.
- مجاز راټولونکي کثافات د کثافاتو مجاز تاسیساتو ته لیږدوي چې په مناسب ډول ورسره معامله کیدی شي.
- د هغو خلکو په لاس کې مه راځئ چې د ضایعاتو څخه د خلاصون لپاره ارزانه لاره وړاندې کوي.
- د کثافاتو غیر مجاز فعالیت د چاپیریال د جدي ککړتیا لامل کیدی شي، د کثافاتو پر صنعت منفي اغیزه کولی شي او د عامې روغتیا ستونزې رامنځته کوي.
- ستاسو کثافات ستاسو خپل مسؤلیت دی، که په پای کې وغورځول شي، ښخ یا وسوځول شي، د تطبیق اقدام کولی شي د دعوی لامل شي.
- که تاسو داسې کارونه کوئ چې کثافات رامنځته کوي لکه د کور ترمیم، بیا مو هم د کثافاتو مسؤلیت پر خپله غاړه دی.



**د ضایعاتو مجاز را ټولوونکو په هکله لا زیاتو معلوماتو لپاره ورته مراجعه وکړئ:**

- « www.nwcpo.ie
- « www.mywaste.ie
- « www.donegalcoco.ie

11 ګام

# راپور يې ورکړئ

**ډانيګال کاونټۍ شورا (DONEGAL COUNTY COUNCIL)**

د کثافاتو غير مجاز فعاليت د راپور ورکولو لپاره د ډانيګال کاونټۍ شورا ته د سهار له 9 څخه د مازديګر تر 4.30 بجو پورې او د جمعې له سهار له 9 څخه د مازديګر تر 4 بجو پورې په 53900 91 074 شمېرې سره زنګ ووهئ.

**EPA**

د چاپيريال ساتنې ملي شکايتونو کرښه په 365121 1850 شمېره د EPA «وګورئ؟ ويې وايئ؟» د ځيرک ټليفون اپليکيشن. دا خدمات په 24 ساعته توګه کار کوي.

**د ډانيګال کاونټۍ شورا د ټولو ترلاسه شوو راپورو سمې پلټنې ته ژمنه ده.**



ستاسو
کاونټۍ.
ستاسو
ضايعات؟

د ضايعاتو غورځول جرم دی.
راځئ ټول مسؤليت پر غاړه واخلو.

**#کثافات په غير قانوني ډول غوځول بند کړئ**

**د راپور ورکولو د ځرنګوالي په هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره لاندې ويبسايټ ته مراجعه وکړئ:**

« www.donegalcoco.ie
« www.epa.ie

12 ګام

# له موږ سره اړيکه

**ډانیګال کاونټی شورا (DONEGAL COUNTY COUNCIL)**

**ټليفون شمېره:** 074 91 53900

**برېښناليک:** info@donegalcoco.ie

**ويبسايټ:** www.donegalcoco.ie

**لا زياتي سرچيني پيدا کړئ:**

- **Donegal County Council** – www.donegalcoco.ie
- **My Waste** – www.mywaste.ie
- **Bryson Recycling** - www.brysonrecycling.org
- **National Waste Collection Permit Office** - www.nwcpo.ie
- **EPA** – www.epa.ie
- **Irish Statute Book** – www.irishstatutebook.ie
- **WEEE Ireland** – www.weeeireland.ie
- **Refill** – www.refill.ie
- **Stop Food Waste** - www.stopfoodwaste.ie
- **Conscious Cup Campaign** - www.consciouscup.ie

**مننه!**

منه چي زموږ جېبي لارښود لوستلو ته مو وخت ورکړ. که مو دا لارښود بشپړ کړی وي، په مهربانی سره يي بل چا ته واستوئ يا ډادمنه کړئ چي ريسايکل يي کړئ!

په مهربانی سره د خورا تازه معلوماتو لپاره په لارښود کتاب کي ذکر شوي مختلف ويبسايټونه وګورئ.